## (E)برخه: د مغز لرونکو او غير مغزي ميوو توليد

## اتم لوست: د انځرو توليد(Fig Production)

**د زده کونکو د زده کړي موخي يا هدفونه:** زده کونکي به ددي لوست په پايله کي د لاندې موخو يا هدفونو سره اشنا شي، ددې لوست تشريحات به د لاندې موخو يا هدفونو د لاسته راوړنې سبب شي:

1. د انځر ميوې(Ficus carica) تاريخچه تشريح او روښانه کړئ.
2. د انځر د ونې فزيکي خصوصيات يا ځانګړتياوي تشريح او روښانه کړئ.
3. د انځر رشد او نمو تر بحث لاندې ونيسئ.

**د لوست د تدريس لپاره وړاندیز شوي وخت:** ۳ ساعته

**وړاندیز شوي منابع يا زيرمي:** لاندې منابع يا زيرمي کيدلی شي چي په دي لوست کي ګټوري واقع شي. د درسي پلان د غوره مخکې وړلو لپاره نوموړي پلان په پاورپواينټ کي هم تهيه شوي دي.انټرنيټ د باغونو د حشراتو د کنترول په برخه کي کافي معلومات لري. په دي برخه کي لاندې ځني منابع ذکر شوي دي:

- http://www.figweb.org/Interaction/index.htm
- http://www.crfg.org/pubs/ff/fig.html

**د سامانونو، وسايلو، لوازمو او اسانتياوو فهرست يا ليک لړ**

د ليکلو لپاره سپينه يا تشه ورقه يا صفحه

د پاورپواينټ لپاره پراجکتور(غټ ښودونکی)

د پآورپوآينټ سلايدونه يا صفحي

روښانه سلايدونه

د انځر نموني يا بيلګي

د تکثير کولو د عملې د تمرين لپاره د انځر نبات

انټرنيټ ته لاسرسی

**اصطلاح ګاني :**لاندې اصطلاح ګاني په دي لوست کي وړاندې کيږي.( نوموړي اصطلاح ګاني د پاورپواينټ پروګرام په ۲ شميره سلايد  کي ښودل شوي دي):

- **Breba crop**: د کال لومړنی نبات چي د رواج يا عام انځر(common fig)  پواسطه توليديږي.

**په زړه پوري تګلاره:**له يوې په زړه پورى تګلارې څخه ګټه پورته تکړئ ترڅو چي زده کونکي د لوست د زده کړي لپاره اماده کړي. ښوونکی اکثره د خپلو ځانګړو ټولګيو لپاره د زده کونکو د شرايطو سره سم تګلاري تهيه او برابروي يا ترتيبوي. لاندې تګلاره کيدلی شي چي د يوې ممکنه تګلاري په ډول سره ورڅخه يادونه وکړل شي: زده کونکو ته څو داني انځر وښاياست، په هغه صورت کي چي تازه انځر شتون ونه لري پس هغوي يي تصويرونه په سلايدونو کي وښاياست. او دا پوښتنه مطرح کړئ چي : " ستاسې په منځ کي کوم کس د انځر ميوه خوړلی ده؟" او هم له هغوي نه پوښتنه وکړي چي انځر يي له کوم ځای نه په لاس راوړي دي. او همدارنګه د افغانستان د انځرو د اهميت په برخه کي هم بحث وکړئ او په دي برخه کي خبري اتري وکړئ، له همدې بحث نه په استفادې کولو سره د لوست لومړی موخې يا هدف ته داخل شئ.

## د محتوياتو يا منځ پانګو لنډيز او درسي ستراتيژي ګاني

**لومړی موخه يا هدف:** د انځر ميوې(Ficus carica) تاريخچه تشريح او روښانه کړئ.

**(د پاورپواينټ ۳ شميره سلايد**

I. انځر يا Ficus carica د انسانانو د تاريخ په مختلفو کلتورونو کي مهم او اساسي رول لوبولی دی.

A. د انځر د ميوې په برخه کي داسې عقيده شتون لري چي اصلاً دي ميوې د غربي آسيا له اطرافو څخه سرچينه اخستی ده او له هغې نه وروسته د هغې سيمي ګاونډيو ساحو په خصوصي توګه د مديترانې(Mediterranean) دراياب ته يي پراخوالی پيدا کړی دی.

B. داسې شواهد شتون لري چي د انځر ميوه کم ترکمه له ۵۰۰۰ کلونو څخه راپه ديخوا کښت او کرل کيږي.

C. په پخواني يونان کي د انځر ميوه يو ارزښتمنده ميوه بلل کيدله دا ځکه چي د هغې انتقال نورو غير قانوني ساحو ته صورت نيوه.

D. دا چي د انځر ميوه لذيذ خرنګوالی او ظريف خصوصيت لري، نو په دي بنا د هغې انتقال ماركيټ ته يو ستونزمن امر دی.

1. د انځر ميوه په اکثره توګه په همغه ورځ کي چي راشوکيږي مارکيټ ته وړل کيږي او په همغه ورځ پلورل کيږي.

**دوهمه موخه یا هدف:** د انځر د ونې فزیکي خصوصیات یا ځانګړتیاوي تشریح او روښانه کړئ.

**(د پاورپواینټ ٤ شمیره سلاید)**

II. د انځر ونه تر ١٥ مترو پوري اوږدوالی پیدا کولی شي ولي په عمومي توګه د انځر د ونې اوږدوالی له ٣ نه تر ٩ مترو پوري رسیږي.

A. په ټولي توګه د انځر ونه نسبت خپل لوړوالی ته عریضه وي.

1. دا چي انځر ضعیفه وي او چټکی سره ورسیتیږي نو.

B. د انځر د ونې تنه اکثره غوټه ډوله تومورونه(nodal tumors) رامنځته کوي چي د ونې د ښاخونو د رژیدو سبب کیږي.

C. د انځر د ونې واړه ښاخونه نسبت د هغې لرګین خاصیت ته اکثره مغز لرونکي وي.

**(د پاورپواینټ ٥ شمیره سلاید)**

**د پاورپواینټ دا شمیره سلاید د انځر یوه ډیره زړه یا عمر تیری ونه په ګوته کوي. د دې ونې تنه د ښاخونو لرونکي ده.**

**(د پاورپواینټ ٦ شمیره سلاید)**

D. د انځر شیره یا عصاره د زیاتي لاتکس( latex) شیري لرونکي وي چي د انسان د پوستکی د درد او پرسوب سبب کیږي.

E. د انځر ونې معمولاً د دوه ښاخیزو بوټو په شکل رشد کوي خصوصاً که چیري ونه په مکرره توګه د یخنی په وراندې(frost) واقع شي.

1. د انځر وني ښایي په خپل ترتیب او اصلاح کي د مسطحو داربستونو لرونکي وي، په دي شرط چي د هغې ریښې کنترول شوي او محدودي شوي وي، د بیلګي په توګه د کانتینر په منځ کي.

E. د انځر پاڼې په شنه ځلیدونکی رنګ، د ګلبرګ (single)د یوه ردیف لرونکي وي، په متناوب شکل سره یا هم د( alternate) په شکل او لوی وي( د هغې اوږدوالی ٣٠ سانتي مترو ته رسیږي).

1. د انځر پاڼي څنډي لرونکي دي او د لوړو او ژورو لرونکي هم دي چې د هغې پورتنۍ سطحه( upper surface) له وېښتو نه ډکه او د پاڼې په لاندې برخه کي نرم وېښتان لري.

**(د پاورپواینټ ۷ شمیره سلاید)**

A. د انځر ډیر واړه ګلونه د انځر د میوو په منځ کي خوشه شوي وي.

1. حشرات خپله ګرده شیندل ( Pollinating insects)د خوشې د پورتنیو سوریو له لاري رسوي.
2. په هغه صورت کي چي د انځر ونه یوه عامه او راج (common fig)ونه وي په داسې صورت کي د هغې ټوله ګلونه مونث او د ګردې شیندلو(pollination) ته اړتیا یا ضرورت نه لري.

**(د پاورپواینټ ۸ شمیره سلاید)**

1. دري نوعه نور انځر هم شتون لري.

a. **کاپری جزیرې انځر ( Capri fig)** دا نوعه انځر د مونث او مذکرو ګلونو لرونکی وي چي دا ګلونه د شاتو نه تولیدونکو وړو مچیو( Blastophaga grossorum) لنډ اقامت ته ته اړتیا لري.

i. شات نه تولیدونکي مچۍ( wasp) د انځر د بقا او پاتي کیدو لپاهر ډیري زیاتي حیاتي شمیرل کیږي او مهمي دي دا ځکه چي داسې مچۍ په کافي اندازې سره وړي وي او د ګل د کلالې داخلي سوری ته لاره پیدا کولی شي.

**(د پاورپواینټ ۹ شمیره سلاید)**

**د پاورپواینټ دا شمیره سلاید هغه انځر را په ګوته کوي چي د شاتو نه تولیدونکي مچیو (wasps pollinating) پواسطه ګرده افشاني کیږي. د دي موخې یا هدف له تشریح کولو نه وروسته زده کونکي د شات نه تولیدونکو وړو مچیو په برخه کي او د هغې د ګرده افشانی په برخه کي به تحقیق او څیړنه وکړي**

**(د پاورپواینټ ۱۰ شمیره سلاید)**

b. د ترکېې د ازمير ښار انځر(Smyrna fig): دا نوعه انځر د دې لپاره چي په عادي توګه رشد او انکشاف يي کړي وي نو د کاپري انځر پواسطه غير خودې ګرده افشانی (cross-pollination) ته اړتيا لري.

c. د سن پيدرو انځر( San Pedro): منځنی انځر دی په دي معنی سره چي د هغې اولنی نبات د عام انځر (common fig) په شان مستقيل وي، ولي دوهمي نبات د هغې په ګرده افشانی سره تړاو لري.

**(د پاورپواينټ ۱۱ شميره سلايد)**

A. عام يا رواج انځر( common fig) چي کوم لومړنی بنات په پسرلی کي منځته راوړي د breba په نامه سره ياديري.

1. دوهمي نبات چي په منی کي منځته راوړي د اصلي نبات (main crop) په نامه ياديږي.
2. د يخ اقليم په شرايطو کي د breba نبات معمولاً د پسرلی د بي موقع يخنی (spring frosts) پواسطه له منځه ځي.

**(د پاورپواينټ ۱۲ شميره سلايد)**

3. د انځر د رسيدلی يا پخې ميوي پوستکی د لورو او ژورو لرونکی وي او هر څومره چي لاپسې پخيږي په هماغې اندازې سره د هغې چاوديدل پيل کيږي او د هغې مغز لوڅيږي.
4. د انځر د پوستکی دننه برخه د سپين رنګ لرونکی ده او د جيلي غوښني لرونکي هم ده.
5. انځر په زيات شمير کي د خوړو وړ دانو يا تخمونو لرونکي وي چي معمولاً منځ خالي وي مګر دا چي ګرده افشاني شوي وي.
6. د ګرده افشانی شوو انځرو تخمونه د مغز لرونکی ميوي د خوند او مزی لرونکي وي .

د زده کونکو لپاره زمينه مساعده کړئ ترڅو د **http://www.figweb.org/Interaction/index.htm** ويب پاڼه خلاصه کړي. هغوي ته وختورکړئ ترڅو چي په ويب پاڼه کي شتون لرونکي معلومات مطالعه کړي او د هغې تصويرونه مشاهده کړي. دا ويب پاڼه د انځر د مچيو په برخه کي عالی معلومات وړاندې کوي. د ويب له ليدنې څخه وروسته له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ ترڅو چي خپل زده کړي معلومات تشريح او روښانه کړي.

**دوهمه موخه يا هدف :** د انځر د ونې فزيکي خصوصيات يا ځانګړتياوي تشريح او روښانه کړئ.

**(د پاورپواينټ ۱۳ شميره سلايد)**

III. د انځر ونه د ښې ذايقي لرونکي ميوي د توليد لپاره او دا چي پخه شي په مکمله توګه د لمر جريان ته اړتيا لري.

A. د انځر وني په فوق العاده توګه د وخت په تيريدو سره غټيږي او هر څه چي د هغې لاندې رشد وکړي نو د هغې له سويري لاندې ځای نيسي.

1. په مکرره يا پرلپسې توګه د ښاخونو پري کول د ونې د سايز د کنترول لپاره بالاخره د دي سبب کيږي ترڅو چي د انځر ونه له منځه لاړه شي.
2. د انځر اوبه لرونکي يا له شيري( succulent ) نه ډکه تنه او ښاخونه په فوق العاده توګه د حرارت په وړاندې او همدارنګه د لمر د صدمې په وړاندې حساس وي، په هغه صورت کي چي په خاص توګه د دي عواملو په وړاندې ځای ونيسي بايد ګچ ورباندې ومښل( whitewashed) شي.
3. د انځر د ونې ريښي ډير ګيډوری(پراخوالی خوښونکي) دي او د همدې دليل له کبله نسبت د ونې ګنبد(canopy) ته تر ډيري زياتي ساحې پوري خپريږي.
4. د انځر د ميوې ونه هغه ونه نه ده چي په وړو ځايونو کي رشد اونمو وکړي.

a. د انځر د ونې ظريفي ريښي که چيري په باغي توګه تجاوز وکړي او پري کړل شي نو د انځر ونې ته کومه صدمه نه رسيږي.

## (د پاورپواينټ ١٤ شميره سلايد)

A. ځوانې او نور کښت کړل شوي وني تر هغه وخته پوري بايد په منظمه توګه اوبه کړل شي ترڅو چي هغې په ښه توګه استقرار پيدا کړي نه وي.

1. د وچ اقليم په شرايطو کي، رسيدلی (mature)وني بايد کم ترکمه يو يا دوه ځلی په اونۍ کي په ژوره توګه اوبه کړل شي.

a. هغه باغونه چي په دشتو کي موقيعت لري په مکرره توګه لو له بل پوري نښتي دي اوبه کړل شي .

2. د دې په خاطر چي د ريښو په شاوخوا کي رطوبت يا لمدوالی ساتل شوي وي پس نوموړي خاوره دي ملچ Mulch کړل شي( پاڼي او نور خاشاک چي د ونې د ساقي په چاپيره انبار کيږي ترڅو چي يخنۍ يي ونه وهي او هم له خپل رطوبت له لاسه ورنه کړي).
3. که چيري ونه په کافي اندازې سره اوبه جذب نه کړي، پس د پاڼو رنګ يي زيړيږي او په ځمکه لويږي.
4. هغه وني چي د وچکالۍ د فشار(drought-stressed) په وړاندې يي ځای نيولی وي نه يوازې دا چي ميوه به توليد نه کړي بلکې د نيماتود ( nematode)د ناروغۍ په وړاندې هم حساسيت توليدونکي کيږي.
5. هغه وني چي نوی کرل شوي وي د اوبو د کموالی په وړاندې حساسي وي، له رشد او نمو نه وروسته پاتي کيږي او له منځه ځي.

**(د پاورپواینټ ۱۵ شمیره سلاید)**

A. د انځر وني په دواړه حالتونو کي له حاصل نه ډکي وي یعنی که چیري یي ښاخونه پري کړل شوي(heavy pruning) وي او یا نه وي پري شوي دواړو کي حاصل ورکوي.

1. د لومړیو کلونو په جریان کي د ښاخونو پري کول ضروري او لازمي وي.
2. د انځر د ونې ارایش (training) او اصلاح کول د انځر د میوې د استفادې په ډول صورت نیولی شي، د بیلګي په توګه د ښکته تاج په ترتیب سره اصلاح کول د تازه انځر د عرضې لپاره د مارکیټ لپاره مناسب وي.
3. دا چې د انځر ونه خپله میوه په انتهایي ښاخونو او د تیر شوي کال په راټوکیدلو ساقو باندې منځته راوړي نو په دي بنا هر کله چي د ونې شکل تشکیل شو، پس د پسرلنی سختي ښاخ پري کونې نه مخنیوی وکړي د دي لپاره چي دا عمل په نبات کي د راتلونکی کال د خساري سبب کیږي.

**(د پاورپواینټ ١٦ شمیره سلاید)**

1. بهتره به دا وي ترڅو چي د ښاخونو پري کول په متصله توګه د نبات د حاصل اخستلو نه وروسته صورت ونیسي، یا هم د ځنډني رسیدونکو کلتوارونو (late-ripening) ښاخ یا یوه برخه په اوړی کي او د هغې پاتي برخه په ورستي اوړی کي پري کړل شي.
2. که چیري شوني وي چي اساسي ښاخ پري( radical pruning) کول صورت ونیسي پس دا لازمه ده چي د انځر ټوله ونه په ګچ سره ومښل شي.

**(د پاورپواینټ ۱۷ شمیره سلاید)**

A. د انځر د ونې لپاره په منظمه توګه سره یا کود ورکول معمولاً د هغو ونو لپاره چي په ګلدان کي یا په شګلنو خاورو کي کرل شوي وي، لازم دي.

1. د نایتروجن زیات استعمال د دي سبب کیږي ترڅو چي د میوي د زیات تولید په عوض د ونې پاڼي او ښاخونه زیاتوالی حاصل کړي، او تولید شوي میوي په نامناسبه توګه پخي شي.
2. د انځر د ونو لپاره د سري یا کود ورکولو عمومي قاعده داسې ده چي د انځر د ونې ښاخونه دي ولیدل شي که چیري یي ښاخونه نسبت تیر کال ته له یو فوټ نه کم رشد کړي وي پس په دي معنی چي دا وني د سري یا کود لپاره اړتیا لري.
3. په ټولي توګه له ۰،۲ نه تر ۰،٤ کیلو ګرامو پوري حقیقي نایتروجني(actual nitrogen) سره یا کودي دي استعمال کړل شي، دا سره یا کود په دري یا څلورو څلو کي د ژمې له اواخرو نه د پسرلی د پیل پوري او د جولای په میاشت کي ختم کړل شي.

**(د پاورپواینټ ۱۸ شمیره سلاید)**

A. په سرحدي اقليم (borderline) کي په ازاده هوا يا له منزل نه د باندې دي کښت کړل کيدی شي په دي شرط چي د يخنۍ په وړاندې ساتونکی تدابير (frost protection)ورته برابر کړل شوي وي.

1. د انځر ونه د ديوال يا بل کوم ساختمان په وړاندې چي د نور حرارت ونې ته انعکاس کوي(radiation)، کښت کړئ.
   a. يا هم هغه د بوټی په شکل کښت کړي، د دوهم کال په پای کي د انځر د ونې تنه د ځمکې سره نژدې پري کړئ.
2. د انځر د سر پري کړل شوي ونې لپاره فرصت ورکړئ ترڅو د يوي تنې په عوض څو ساقي توليد کړي.
3. د زياتي ساتنې او حفاظت لپاره ونې ته يو چوکاټ پورته کړئ او په ژمې کي دا چوکاټ د ګليم يا نورو درنو وسيلو پواسطه پوښښ کړئ.

## (د پاورپواينټ ۱۹ شميره سلايد)

4. هغه جوانې چي د خوب يا استراحت په حالت کي دي د يخنۍ په وړاندې ډير زيات حساسيت لري.
5. ځني وختونه يخني او يخبندان د دي سبب کيږي ترڅو چي د ونې تنه( trunk) له ژونديو جوانو څخه خالي شي چي په داسې حالتونو کي د بيا ځل لپاره رشد ممکن دی ولي له ريښو څخه!

## (د پاورپواينټ ۲۰ شميره سلايد)

A. د انځر نبات معمولاً د قلمو پواسطه تکثير (propagation)کوي.

1. د انځر قلمه د ۲،۵ سانتي مترو په قطر چي د يو فوټ په اندازې سره اوږدوالی ولري، د استراحت په حالت کي قرار بايد ولري او په خپله قاعده کي دي دوه کلن لرګی هم ولری، نو داسې قلمه انتخاب کړئ.
2. يو کلن واړه ښاخونه چي په خپله قاعده کي دوه کلن بيرته ګرځيدونکي ښاخ( heel) ولري هم د قلمې په توګه استعمال کيدلی شي .
3. قلمي د ريښو ويستونکو تحريکونکو موادو ( rooting hormone) کي ننباسئ او په يوه لامده ځآی کي يي د حرارت د ۱۰ نه تر ۱۵ درجو د سانتي ګريد پوري د يوي اونۍ لپاره کيږدئ ترڅو چي قلمي پينه لرونکي يا ميخک لرونکي ( callus)شي

## (د پاورپواينټ ۲۱ شميره سلايد)

4. د اوړی موسم قلمه هم کیدلی شي چي تر استفادې لاندې ونیول شي، ولي هغه وخت د ښې پایلې لرونکي وي چي په یخو خونو کي د دوه نه تر دري اونیو پوري مخکې له دي چي په گلدان کي ځای په ځآی شي او پاڼې يي غورځول شوي (defoliation) وي، ژمنی شوي (winterized)وي.
5. پاڼي لرونکي ساقي نم لرونکی بستر ته اړتیا او ضرورت لري.
6. کم پیداکیدونکي کالتوارونه ښایي په روښتیاک، د زړو ونو په مخ، د بل جنس ونې د پیوند (topworked)واسطه په ونه باندې، اسکنه يي پیوند، ژبه ډوله پیوند یا هم د ونې د تاج پیوند کولو پواسطه او یا هم د نښلونکی پیوند پواسطه تکثیر وکړي.
7. ریښه لرونکي قلمي د خاوري د ظرفیت په پام کي نیولو سره(capacity of the soil) باید چي د ونې نهایي اندازه په ساحه کي د ٦،٧ نه تر ٩،١ متر مربع پوري کښت کړل شي.

**(د پاورپواینټ ٢٢ شمیره سلاید)**

8. د داسې قلمو ریښي تر هغه وخته پوري چي خښیږي باید نمناکي وساتل شي.
9. هغه ځوانه ونه چي په پسرلی کي يي نوی په رشد او نمو پیل کړی وي هغه دي له ځآیه بي ځای( transplant) نه کړل شي دا ځکه چي دا کار د ونې د منځه تلنې لپاره یو قوي احتمال رامنځته کوي.
10. ونه تقریباً په اندازه د ٦٠ سانتي مترو پري کړئ او د هغې تنه د گچ پواسطه ومښئ.

**(د پاورپواینټ ٢٣ شمیره سلاید)**

A. بي شمیره آفاتونه شتون لري چي د انځر په ونه باندې هجوم راوړي.

1. د نیماتودا (Nematodes) چینجي خصوصاً په شگلنه خاوره کي په ریښو باندې حمله کوي د هغې د پوستکی د زخمي کیدو سبب کیږي او د ونې د رشد د ودریدو باعث گرځي.
2. د وچې میوي سوسکونه د سترگی له لاري د پخې میوې داخل ته ځي او د قارچونو د داخلیدو سبب کیږي او ددي سبب کیږي ترڅو چي میوه ورسته شي.
   a. دا سوسکونه په پرلپسې توگه په لیمویي غورځیدلو میوو ( fallen citrus fruits) کي د مثل تولید کوي.
   b. باغ یا بڼ د تل لپاره په ځمکه باندې له غورځیدلو میوو څخه پاک وساتئ او د انځر وني د لیمویي ونو سره په څنگ کي کښت نه کړئ.

**(د پاورپواینټ ٢٤ شمیره سلاید)**

1. د Euryphid واړه چينجي د انځر په ميوه باندې ډيره کمه صدمه واردوي ولي په ياد بايد ولرو چي دا واړه موجودات د موزائيک ناروغۍ ويروسونه له يوي ککړي وني څخه بلې پاکي او سالمې ونې ته انتقالوي.
   a. د ناروغۍ علايم يا نښې ( Symptoms) نښاني په پاڼو کي د پوتاشيم له کموالی سره ورته نښي لري او د پاڼو په مخ باندې زيړ خالونه رامنځته کيږي او د پاڼو رګونه د ځآن لپاره روښانه رنګ غوره کوي.
   b. د ناروغۍ علايم يا نښې( Symptoms)  معمولاً تر هغه وخته پوري نه ښکاره کيږي ترڅو چي ونه زړه شي يا دا چي ونه د اوبو د فشار (water-stressed)په وړاندې ځای ونيسي.

**(سلايد شماره 25  پاور پواينت)**

4. هغه وني چي په ناروغۍ باندې اخته وي مه پيرئ او هم هغه ونه چي وړاندې لويدلی وي او د ناروغۍ نښي ولري هم تر استفادې لاندې مه نيسئ.
5. بوتری تيس (Botrytis) د راټوکيدونکو ساقو د توريدو سبب کيږي هغه وچوي او ښاخ د سکرو يا ذغالو شکل د ځآن لپاره غوره کوي.
   a. دا ناروغي معمولاً له نميه رشد کړيو ميوو څخه چي د لومړنی ژمی د يخنۍ پواسطه يي صدمه ليدلی يو پيل کيږي، له دي وروسته اصلي ساقي ته داخليږي او وروست شوی زون په قرمزي رنګ ته پراخوالی ورکوي.
   b.  د دې ناروغۍ ککړتيا او خپريدل عموماً خودي کنترولي( self-controlling) دي او په پسرلی کي توقف کوي.
   c. دا ناروغي داسې هم کنتروليږي ترڅو چي له منځه تللي ميوي او همدارنګه يخنۍ وهلي ميوي لري کړل شي، په ياد ولرئ همدا چي داسې  ميوي مو مشاهده کړي سمدستي هغه لري کړئ.

**(د پاورپواينټ ٣٦ شميره سلايد)**

6. د انځر خوره کيدل ( canker)له هغو باکترياوو نه عبارت دي چي د ونې د تنې په ضررمند شوي زون  داخل کي او په حلقه يي شکل سره د ونې د پري کيدو د نسجونو د مړه کيدو( necrosis) او د وني د ښاخونو له منځه تلنې سبب کيږي.
   a. دا ناروغي معمولاً د لمر وهنې  په برخه کي يا د لمر سوځونې په برخه کي پيل کيږي، پس هغه ښاخونه چي د لمر په وړاندې يي ځای نيولی دی د ګچ پواسطه پوښښ(whitewashed)  کړي.

7. Rhyzopus smut په ونه کي په پخو شوو میووو باندې حمله کوي او د میوي د پوستکی د داخلي برخي د تورېدو سبب کیږي، په غټو کالتوارونو کي چي د هغې سترګی خلاصه وي ډیره صدمه یا ضرر واریدولی شي.

**(د پاورپواینټ ۲۷ شمیره سلاید)**

1. اکثره زیانونه یي په پخي میوي باندې واردیږي لکه ورستیدل Endosepsis ، (Fusarium) او Aspergillus دي چي د حشراتو پواسطه حتی د شات نه تولیدونکو مچیو(pollinating wasps) پواسطه خپریږي.
   a. ذکر شوې میوه چوي او تالاشوي په نظر راځي او نښلیدونکي(د لعاب په ډول) وي او د میوي له سترګی څڅیدونکي ماده په تدریج سره خآخي او میوه له خوړلو څخه باسي(inedible).

   a. د پني سیلیوم د قارچونو ( Penicillium fungus) نوعه ده چي وچه انبار شوی میوه تر حملې لاندې راوړي ولي د میوي په وچ ساتلو سره او یا هم د زیرمه کیدلو نه مخکې په هغې باندې سلفر وهل د دي سبب کیږي ترڅو چي میوه د پني سیلیوم قارچونو له حملې نه وساتل شي.

**(د پاورپواینټ ۲۸ شمیره سلاید)**

A. د انځر میوه باید په ونه کي له اخستلو نه مخکې په کامله توګه پخه شي.

1. په هغه صورت کي چي انځر نا رسیدلی واخستل شي وروسته نه پخیږي.
2. د انځر پخه شوي میوه لږ څه نرمه او په آسانۍ سره ماتیږي او د هغې لرګی کوږ وي.
3. د انځر میوه په کراره توګه واخلئ ترڅو چي د هغې له چیتیدلو او زخمي کیدو نه مخنیوی وشي.
4. د تازه انځر ساتنه ممکنه نه ده ولي په یخچال کي د دوه نه تر دري ورځو پوري ساتلی کیدلی شي.
5. د انځر څني نوعي هرکله چي وچي شي نوري هم لذیذي او خوږیږي.
6. د انځر وچیدل د ٤ نه تر ٥ پوري ورځي په لمري شرایطو کي په برکي نیسي او د اوبه ویستونکی(dehydrator) پواسطه د ۱۰ نه تر ۱۲ ساعتونو په موده کي وچیږي.
7. وچ انځر د شپږو نه تر اوو میاشتو پوري زیرمه کیدلی شي.

**(د پاورپواینټ ۲۹ شمیره سلاید)**

دا شمیره سلاید د وچ شوي انځر تصویر کوم چي په تار باندې ځړول شوي دي په ګوته کوي چي د پلورلو لپاره اماده شوي دی. دا وچ انځر دافغانستان خپل انځر دی.
کوښښ وکړئ ترڅو د انځر حقیقي ونه زده کونکو لپاره وښایاست ترڅو هغوي يي عملاً وګوري. او زده کونکي باید چي د زیتون د ونې د تشکیل نوع یادښت کړي. آیا ونه د یوي تنې لرونکی ده او یا هم څو ښاخونه لري؟ نوی میوي په کوم ځای کي رشد او انکشاف کړی دی؟ د ونې ښاخونه باید پري کړل شي او که نه؟ که چیري ونې په مکمله توګه رشد کړی نه وي پس د انځر قلمي د زده کونکو لپاره راوړئ او له هغوي نه غوښتنه ترڅو چي هغه تکثیر کړي.

**بیا کتنه۱خلاصه یا لنډیز:** د زده کړو موخو څخه په استفادې سره لوست خلاصه یا لنډیز کړئ. له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ ترڅو چي د هري موخې پوري تړلي منځ پانګي تشریح کړي. د هغوي له ځوابونو څخه د یوه بنسټ په توګه د هغو موخو د تعین او ټاکنې لپاره کومي چي د بیاکتنې لپاره مختلفو تګلارو ته اړتیا لري، تر استفادې لاندې ونیسئ. له هغو سوالونو څخه چي د پاورپواینټ په ۳۰ شمیره سلاید کي شتون لري هم په دي برخه کي استفاده کولی شی.

**تطبیق او عملي کول:** له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ ترڅو چي د افغانستان لپاره د انځرو غوره او ښې نوعي تشخیص او معلومي کړي. له هغوي نه غوښتنه وکړئ ترڅو هغه لست برابر کړي کوم چي د انځر د میوو ورکولو د هغې د رشد په خصوصیاتو باندې شامل وي.

**ارزیابی:** ارزیابی باید د زده کونکو په لاسته راوړنو باندي متمرکزه وي کومه چي له درسي موخو څخه وي. په دي برخه کي مختلف تخینکونه د استعمال وړ دي، د بیلګي په توګه په غوښتنیزو فعالیتونو باندي د زده کونکو اجرا کوني. په لیکلي بڼه امتحان یا ازموینه ددي درسي مواد شامله دي.

**نمونه يي امتحان ته ځوابونه:**

**لنډ ځواب**

1. آنځر میوې له کومه ځایه سرچینه اخستی ده؟
غربي آسیا

2. د انځر په کښت او تجارتي تولید کي کومه ستونزه یا مشکل شتون لري؟
دا چې د انځر میوه د ماهیت له مخې نازکه او ظریف دي نو په دي بنا د هغې ترانسپورت مارکیټ ته مشکل او ستونزمن دی.

3. شات نه تولیدونکي وړي مچی د آنځرو د تولید لپاره ولي مهمي دي؟
دا ځکه چې دا مچی ډیري وړي دي او کولی شي چي ځان د ګل کلالې ته داخل کړئ.

4. د انځر رسیدلی یا بالغې وني څو ځلي باید اوبه کړل شي؟
کم تر کمه په اونی کي یو یا دوه ځلی

5. په عامه توګه د انځر ونه په څه ډول تکثیر کیږي؟
قلمي

6. دهکانانو په څه ډول کولی شي چي پوه شي چي انځران رسیدلی او پاخه دي؟
پاخه شوي انځرن نرم او له ونې په آسانۍ سره شوکوړي او هم د هغې غاړي برخه لږ څه کږه وي.

7. د breba نبات څه دی؟

د کال لومړنی نبات چي د عام یا رواج انځر (common fig)پواسطه تولیدیږي.

**نمونه يي امتحان** **نوم:--------------------**

---

**امتحان(ازموينه)**

---

**اتم لوست: د انځرو توليد(Fig Production)**

**لومړی برخه: لنډ ځواب**

**رهنمايی (لارښوونه):** ددي لپاره چي لاندې سوالونه مو ځواب کړي وي، لطفاً تاسې د هغې سره تړلي معلومات برابر کړئ.

- آنځر ميوې له کومه ځايه سرچينه اخستی ده؟
- د انځر په کښت او تجارتي توليد کي کومه ستونزه يا مشکل شتون لري؟
- شات نه توليدونکي وړي مچی د آنځرو د توليد لپاره ولي مهمي دي؟
- د انځر رسيدلی يا بالغې ونې څو ځلي بايد اوبه کړل شي؟
- په عامه توګه د انځر ونه په څه ډول تکثير کيږي؟
- دهکانانو په څه ډول کولی شي چي پوه شي چي انځران رسيدلی او پاخه دي؟
- د breba نبات څه دی؟